مونږد ابراهیمي ملت ټولو مستضعفانو ته دلوی اختر دراسیدو په مناسبت مبارکی وایو

(۴) صفحه

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

شمارهٔ مسلسل (۹۳۵) سال هژدهم -شمارهٔ (۲۱) یکشنبه (۱۷) ثور ۱۳۷۴ هـ ش - (۸) ذی الحجه ۱۴۱۵ هـ ق - ۷ می ۱۹۹۵ م

قیمت (۱۵۰) افغاني (۲ روپیه)

استاد رباني باارسال پیامي :

ازامام علي رحمانوف خواست تابه کابل آمده وبامخالفینش مذاکره نماید

کابل - ۱۶ ثور :

رئیس ادارهٔ کابل روزگذشته بطوررسمي ازطرفین درگیردرتاجکستان خواست تادرافغانستان باهمدیگر مذاکره نمایند .

قرارگزارش خبرگزاري رویتریك نطاق وزارت خارجهٔ تاجکستان آقاي سیدوف ضمن اعلان این مطلب گفت استادرباني درپیامي که ازراه سفارت افغانستان دردوشنبه به امام علي رحمانوف فرستاده ازآقاي رحمانوف خواست تادرکابل بایکي ازسران مخالفین دولت تاجکستان گفتگو ومذاکره نماید .

خبردیگري حاکیست که مخالفین دولت تاجکستان سفربه کابل ومذاکره بارحمانوف راقبول کرده اند .

دنظارشورایونامتو قوماندان :

عبدالظاهرله ټپي کیدووروسته مړشو

کابل - دغویي ۱۶ مه :

له کابل ولایت څخه راسیدلي خبرونه وایي چي څومووده وړاندي کله چي دکابل اداري ځواکونو دخاك جباریه سیمه کي دحزب اسلامي په مرکزونو خپله ناروا جګړه پیل کړه دجګړي په پیل کي دنظارشورا یونامتوقوماندان عبدالظاهر دپروان ولایت دکوه صافي دعلاقداري اوسیدونکي سخت ټپي شو .

خبرځاي لیکي چي نوموړي قوماندان له ټپي کیدو وروسته مړشوي اودهغه په پلرني هدیره کي خاورته سپارل شوي دي .

په میدان ښارکي :

دکابل اداري هوايي ځواکونو دطالبانو پرمرکزونو سختي بمباري وکړي

میدانښار - دغویي ۱۶ مه :

له ولایت میدان دوردګو څخه راسیدلي خبرونه وایي چي دمیدانښار مرکز ورمه ورځ دکابل اداري دبرجیت اوبوي اکتشافي الوتکي دمیدانښار په مرکزاوشاوخواسیموکي دطالبانو مرکزونه ترسختوبمبارو لاندي ونیول چي په نتیجه کي دښار ځیني برخي ویجاړي اودځان تاوان چاته ونه رسیده . خبرځاي لیکي چي پدي بمبارو کي له خوشه بي اونورو ډول ډول بمبو څخه کاراخستل شوي دي .

عیدمبارك

کارکنان روزنامهٔ شهادت حلول عید سعیداضحی رابه کافهٔ مسلمانان جهان بویژه ملت سلحشور وغیورافغانستان تبریك گفته ، استدعامي نماید پروردگاربزرگ ولایزال به یمن جان نثاري ها وخون هاي مطهر وپاك شهداي راه جهاد صلح وصفاوآشتي واخوت رادرافغانستان حکمفرماسازد .

(اداره)



برادرمحمدامین "مرزایي" طي مصاحبه یي :

شوراي عالي هماهنگي به حال خودباقي بوده وبه فعالیت هاي خود ادامه میدهد

• ماازتمامي علماي جیدکشور خواهانیم تاقاتلین حجت الاسلام مزاري رابه جزاي اعمال شان برسانند!

پشاور - ۱۶ ثور :

حزب وحدت اسلامي افغانستان دریکاولنگ ولایت بامیان تشکیل جلسه داد .

برادرمحمدامین مرزائي طي مصاحبه ئي راجع به این جلسه اظهارنظرنموده گفت : اعضاي حزب وحدت اسلامي افغانستان دریکاولنگ ولایت بامیان تشکیل جلسه داده وروي مسائل داخلي حزب وحدت اسلامي مذاکره نمودند .

برادرمحمدامین طي این مصاحبه خویش گفت که شوراي عالي هماهنگي کماکان السابق به حال خود باقي وبه کارهاي خویش ادامه میدهد . وي این ادعاي اکبري وعالمي بلخي راردنمودکه گویا استادخلیلي در انتخابات حزب ناکام شده است وي افزود استادخلیلي بااکثریت آراي اعضاي حزب وحدت اسلامي به حیث رهبراین حزب انتخاب گردید وازپشتیباني

بقیه درصفحه سوم

فاجعهٔ هفت ثوردرکمپ جلوزوتقبیح شد

جلوزو - ۱۳ ثور :

به تاریخ ۹ ثور درکمپ جلوزي طي گردهمایي پرشکوهي که ازطرف مسئولین حوزه امام محمدشیباني ترتیب گردیده بود فاجعه ننگین هفت ثورسال ۱۳۵۷ تقبیح گردید .

گزارش رسیده ازپشاور حاکیست، جلسه مذکور باتلاوت آیاتي از قرآن کریم آغازگردید . سپس برادران هریك عبدالمجید هاشمي ، قاري ضیاء الدین ، امین الله (عابد) ، عبدالله واخلاقیار ، محمدنادر وعظیمي ، امان الله ، امین الله (امین) ورحمت الله قایز بالنوبه پیرامون تشکیل احزاب کمونستي درکشور وبه قدرت رسیدن کمونستهاوپیامدهاي کودتاي هفت ثور بیانیه هاي عالمانه ایراد واشعارجالب قرائت نمودند. همچنان برخي ازبرادران به سوالات اشتراك کنندگان جواب هاي عالمانه ارایه نمودند .

داسلامي کنفرانس سازمان په افغانستان کی دسولي دټینګیدو په اړه یوه نوي طرحه ترڅیړني لاندي ونیوه

• دافغانستان جهادي مشرانو په هیوادکي داوربند دڅارني له پاره دملګرو ملتونو دڅارونکوله ځاي پرځاي کیدوسره موافقه وکړه

اسلام آباد - دغویي ۱۶ مه :

دافغانستان په چارو کي داسلامي کنفرانس دسازمان عمومي منشي په افغانستان کي دوایي سولي دټینګیدو په اړه یوه نوي طرحه ترڅیړني لاندي نیولي ده .

داخبري داسلامي کنفرانس دسازمان غړي محمد موسوي په اسلام آباد کي دیوي مرکي په ترڅ کي وکړي .

موسوي وویل دااوس هم دحامدالغابد اودافغانستان دګرندویه مشرانوسربیره دافغاني شخصیتونواواسلامي ملکونو دمشرانوترمنځ دافغانستان دشخړي دحل په باب خبري اترې رواني دي چي ددي خبرو نتیجه به په یوه مناسب فرصت کي اعلان شي موسوي وویل چي دافغانستان جهادي مشرانو په خپل هیواد کي داوربند دڅارني له پاره اسلامي کنفرانس دڅارونکودځاي پرځاي کیدو سره موافقه وکړه .

موسوي

دپیښاورتو دکمپ دمهاجرینو ...

دطالبانو په مرکزونو باندي دکابل اداري بمباري وغندل شوه

پیښور - دغویي ۱۶

په پیښور کي دمهاجرینو دکمپ څخه راسیدلي ریپوټونه وایي چي دروان کال دغویي دمیاشتي په ۱۴ مه نیټه په دغه کمپ کي ګن شمیر علماو سپین ږیرو ، قومي مشرانو، اومهاجرینودطالبانو دتحریك نه په ملاتړیوه درنده غونډه وکړه .

خبرځاي لیکي غونډه چي دمولوي حیات الله په مشري رابللي شوي وه دقرآن عظیم الشان دڅومبارکو ایتونوپه تلاوت پیل شوه .

خبرځاي زیاتوي چي په پیل کي ملاامیرت خان ویناوکړه اودکابل له اداري سره ئي خپله مقاطعه اعلان اودطالبانودتحریك سره ئي خپل ملاتړ څرګندکړ .

خبرځاي دخپل خبرپه پاي کي لیکي چي په آخرکي دغونډي برخوالو دیوه پریکړه لیك په صادرولوسره دکابل اداري له خوا دطالبانو په مرکزونو بمباري وغندلي اودطالبانوله تحریك سره ئي خپل ملاتړ څرګندکړ .

دکابل اداري دآسیایي پراختیاي بانك څخه دمرستي غوښتنه وکړه

کابل - دغویي ۱۶ مه :

دکابل اداري دآسیاپرمختګ بانك نه غوښتني چي له افغانستان سره خپلي مرستي له سره پیل کړي .

ډیوال خبري آژانس وایي چي داغوښتنه دکابل اداري استازي عبدالقادرډبانك په کلني غونډه کي چي په نیوزیلینډکي وشوه کړیده .

عبدالقادر ویلي چي افغانستان دبهرني پانګي اچونې له پاره سخته اړتیا لري اونوري نه باید دافغانستان دخلکیده ورځ له یاده و باسي نوموړي بانك په ۱۹۷۹ کال کي افغانستان ته دیپوروکړه بنده کړي ده .

جنګهاي شدید میان نیروهاي ادارهٔ کابل وګروه طالبان درولایت فراه ادامه دارد

فراه - ۱۶ ثور :

جنگ میان نیروهاي ادارهٔ کابل وگروه طالبان درنواحي ولایت فراه به شدت جریان دارد .

گزارش هاي رسیده ازاین ولایت حاکیست که ازمدت دو روزبه این طرف در اطراف ولایت فراه به خصوص درمنطقهٔ فراه رود جنگ هاي شدیدي درگرفته که ازاثرآن تلفات زیادي به هردو جانب وارد گردیده است .

راپورحاکیست که دراین نبرد ادارهٔ کابل ازجت هاي تازه وارد ازهند استفاده نموده که به اثربمباران این طیارات خسارات مالي زیادي به اهالي منطقه وارد گردیده وچندتن ازاهالي بي دفاع نیز شهیدیازخمي شده اند .

درگزارش آمده که هردوطرف دراین نبرد هاادعاي پیشروي مینمایند اما تاکنون کدام راپورموثقي دردست نیست که کدام یك ازاین دوجناح درگیر نایل به پیشروي شده اند .

دپیښوروالیتو ترګټو هیئت :

په پیښورکی له محترم مولوی محمدنبی محمدی سره وکتل

پیښور - دغویي ۱۶:

له پیښور سارڅخه دشهادت ښاري خبریال خبراکوي چي دروان کال دغویي دمیاشتي په ۱۵ مه نیټه دختیځوولایتونوپیښور ته تللي هیئت دحرکت انقلاب اسلامي له مشرمحترم مولوي محمد نبي محمدي سره وکتل اودهیواد دروانو سیاسي اونظامي حالاتوپه اړه ئي ورسره خبري وکړي .

خبریال لیکي چي دهیئت له غړوسره محترم دمحمدي د دافغانستان درواني ستونزي په حل اوپه هیواد کي دداییمي سولي دټینګیدو په لاره کي دهرډول همکاریو ژمنه وکړه اوددوي دااقدام ئي یو نیك پالرګاڼه .

دایران ، پاکستان اوافغانستان ترمنځ دمهاجرینو دایستلو په باب کومه موافقه نه ده شوی

• ایران باید افغاني مهاجرین په زور له دغه هیواد څخه ونباسي

دغویي (۱۵) :

دغه څلورلکه مهاجرین چي د عجیب رژیم له ړنګیدو نه وروسته ایران ته تللي او دموقتي هستوګني کارتونه لري اووخت په وخت ددوي کارتونه تمدید شوي دي داخبري په ژنیو کي دمهاجرو له پاره دملګرو ملتونو دعالي کمشنري نطاق د وفرت ګول له امریکا غږ خبر پال سره دیوي مرکي په ترڅ کي وکړي ګول ول وویل چي د سپتمبر ترمیاشتي پوري افغانستان ته دنیم ملیون مهاجرو افغانانو لیږل چي ایران یي اعلان کړي دي اول پدي پوري اړه لري چي دامهاجر دافغانستان کومو ځایونو ته ځي اودوهم داچي داوس نه تر سپتمبر پوري وخت کي به په افغانستان کي څه پیښیږي .

ده وویل نیږګال ټاکل شوي وه چي افغانستان ته (۵) سوه مهاجر ولیږل شي خو پاتي په دریم مخ کي

یك مسئول بلند پایهٔ سازمان ملل اعلان کرد

همه کشور هاي امضاء کنندهٔ قرارداد منع گسترش سلاح ذروي حق استفاده از ریاکتورهاي غیرنظامي رادارند

نیویارك - ۱۶ ثور :

یك مسئول بلند پایهٔ سازمان ملل متحد اعلان کرد که همه کشورهاي امضا کنندهٔ قرار داد منع گسترش سلاح هستوي میتوانند ریکتورهستوي غیرنظامي داشته باشند.

قرارگزارش خبرگزاري فرانسه ازنیویارك رئیس کمیته هاي تحقیق در قرارداد منع گسترش سلاح هاي ذروي روز گذشته طي گفتگوي مطبوعاتي اعلان کرد ، کشورهاي

بقیه درصفحه سوم

دکابل اداري لخوا جلال آباد ته راغلي هیئت بیرته کابل ته ستون شو

جلال آباد - دغویي ۱۶ مه :

له جلال آباد ښار څخه دشهادت ښاري خبریال خبراکوي چي دروان کال دغویي دمیاشتي په ۱۵ مه نیټه ماښام دکابل اداري له خوا دسیدنورالله عماد په مشري جلال آباد ته راغلي هیئت بیرته کابل ته ستون شو .

خبریال لیکي دکابل اداري داهیئت چي جلال آباد ته راغلي وو ددوي داصلي هدفونو په اړه تراوسه هیڅ کومه خبره نده کړي .

سرمقاله

دقرباني اختر

مبارك دي وي ګردابراهیمي ملت ته دقربانیو داخترد ورځي ټوځل بیا را دېره کیدل، مبارك اوبختوردي وي ټول اسلامي امت ته دخلیل الله (ع) دسنتوتازه کولو دورځې رارسیدل، مبارك اوبختوردي هغه څوك چي پردي ورځ یي دحضرت ابراهیم علیه السلام دسنتوژوندي کولو وياړ په برخه شي ، مبارك اوبختوردي هغه څوك چي دبیت الله ترڅنګ یي دشعایرالله زیارت په برخه دي، اوزیري زیري دي دامت هغومسکیناتواوغریبانانوله پاره چي دابراهیمي سنتودقرباني مالي توان نه لري ، خوپیغمبراکرم (ص) دخداي (ج) درضاله پاره دهغوي په نامه قرباني کړي ده .

هو! عیدالاضحي دهغه تاریخي ورځي نمانځنه ده چي حضرت ابراهیم علیه السلام دلوي خداي (ج) په امرله زیاتومالي قربانیو وروسته خپل زوي حضرت اسماعیل علیه السلام دالله (ج) په دربارکي دقرباني له پاره وړاندي کړ، داڅه ساده اوآسانه خبره نه ده ، بلکي الله (ج) دخپلونورو بندګانودازمیښت په خاطرخپل خاص اومحبوب بنده ګان ازمیښي ، حضرت ابراهیم خلیل الله خپل زوي دقرباني دګرته روانوي، یوي خواته یوصابر اوخداي (ج) اولوالعزم پیغمبرخلیل الله له امتحان سره مخامخ دي خپل ماشوم زوي له ځانه سره دقرباني دګرته بیايي اوبل خواته یي زوي خپل پلارته په وړه ژبه وایي: پلارجانه! جامي دي ښې راټولي کړه چي زما پرویښو نه شي، پرمخي مي څملوه، چي زمادمخ په لیدوکي درنه دالله (ج) په امرکي وروسته والي رانه شي اوله دي سره بیا هم وایي ، اي پلاره هغه څه وکړه چي تاته یې امرشوي ، په قرآن عظیم الشان کي دحضرت اسماعیل ذبیح الله (ع) دخولي دغه تاریخي وینا دصبر، استقامت، عزم اوزغم یي ساري نمونه بلل کیږي .

له آدمه (ع) تردي دمه په ټولو سماوي ادیانوکي دقرباني سنت موجود وو اودي خودحضرت ابراهیم علیه السلام قرباني ساري نه لري، ځکه دراووروسته امتونوله پاره دلاري مشال دي، الله (ج) دخپل دوست پیغمبر (ع) دازمیښت په نتیجه کي ټولو مسلمانانو امتونوته وښودل، چي ددنیاوي ژوندانه ټولي میني اومحبتونه مهالیزدي اوددي دنیا محبوب ترین شیان باید دالله (ج) درضا په خاطر قربان کړاي شي . او هرکله چي دي ته اړتیاولیدل شي، چي دخداي (ج) ددین داحیا، تطبیق اوسنتو دژوندي ساتلوپروخت هرډول قرباني اړتیاپیښه شي لازمه ده چي مسلمانان تري دخداي (ج) درضا اودالهي دین دعظمت ،پت اوناموس دساتني په خاطرځانونه ونه سپموي .

همداعلت و، چي زموږمومن اوپردین مین ملت دخداي (ج) درضا په خاطردتړوال کفر دیرغل پروخت هرډول قربانیوته غاړه کیښوده ، له مال، نه تیرشول، سرونه یي قربان کړل، خپل اولادونه یي الهي دین داحیا اودمستضعف اسلامي امت دخلاصون په خاطردقرباني دګرته ولیږل، غازیان شول، زخمیان شول، شهیدان شول اوپه دي سره لارکي یي سترا وله زغمه وتلي تکالیف وګالل، خوخپل هوډیي له لاسه ورنه کړ.

داستکبارله لوري دظلم ، ناروا اوځیري له امله په هجرت کولو مجبورشول ،کور،کلي، وطن هرڅه تري پاتي شول ، آبادکورونه او وداني ځمکي یي پریښودي، دګاونډیو هیوادوپه ښارواوسوزنده دښتوکي یي دخیموترسیوري لاندي ژوندتیرول غوره وګڼل، خودباطل په مقابل کي یي دقرباني دګرخالي پري نه ښوده بالاخره دیونیم میلیون شازلمیو شهیدانودقرباني په نتیجه کي

پاتي په څلورم مخ کي

سخن روز

دكابل اداري ذلت آميزه تگلاره

ياسر

داسلامي امت ځارځپلي حالت ته چي وكتل شي، اوبيا ددوي له مجموعي تغافل سره پرتله شي، نودداسي شديدعمل په وړاندي ديوه سرسختانه عكس العمل اومقاومت انتظارابستل پكاردي ،او همدغه چلنددفطري اصولوله مخي هرعمل دځپل وجودپه ژوروكي روزي . خودترپول ښكيلاك په وړاندي كه هرڅومره اسلامي نړي خوبولي بريښي ، بيا به هم هغه ورځ ليري نه وي، چي پرځند بي بلوابلواوپاڅون، پاڅون شي. په اسلامي هيوادونوكي دامريكا خپلسري اوبرينده لاسوهنه ددي مانا لري، چي بايه مسلمانان غلامي مني، اويابه دمقاومت لارخپلوي.

پدي باب دلويديځ سايښي تفوق اوبرلاسي پخپله ديوښكيلاكي چلندپه شكل استعماليږي. دعراق له كلابندي اوټكولو ورووسته دادي امريكا دوړي ليره غوندي پرايران بريدكړي، اوغواړي ، دايران اسلامي هيوادپه هرډول مفلوج كړي. خومتاسفانه اسلامي نړي دداسي برغلونوپه مقابل كي كوم گډدريځ ونه نيولي شو . پردي سربيره په امريكاكي ديم ديوي چاودني پروخت هرچاواوريدل ، چي امريكايي حلقوپه پټوسترگوداتورپه مسلمانانوولگاو، خوكله چي جوته شوه ، مسلمانان پدي باب بيخي بي گناه وو ، خونه امريكا پانوله مسلمانانونه بخښنه وغوښته، اونه تري مسلمانانو كومه پوښتنه وكړه . داتورڅه ندي، لويديځ له هغو حكومتونو سره مرستي كوي، چي پراسلامي هيوادونوورتپل شوي، اوهيڅ كوم قانوني جواز نه لري، ددغوحكومتونو سرپرستي اواكمال تيغ په تيغه دلويديځ له خواكيږي ، چي دكابل رژيم هم پدغه ډله كي حسابيږي . كله چي رباني دورووستي ځل لپاره دملگروملتونوداستاځي طرحه ردكړه ، نومحمودمستيري اعلان وكړ، چي درباني حكومت به له نړيوالي انزواسره لاس وگريوان كړي، خوموږوليدل، چي داتشي خبري وي، اوټن ملگري ملتونه درباني داداري په بهرني اكمال غوږقدري هم نه گروي، اونه بي كوم عكس العمل ښكاره كړي . درباني اداره لگياده ،له هندنه الوتكي اخلي، چي ديوه خبرله مخي تراوسه ددي الوتكوشمير شلوته رسيدلي، په همدي ډول له دغي هيوادنه دنوروموستوترلاسه كول درباني دحكومت هغه له سپكاوي نه ډكه تگلاره ده ، چي دافغاني شهيدانواوجهادروح پري آزاروي، ځكه دهندحكومت دجهادپه ټول دوران كي له كمونيستي رژيم سره ولاړ، اودجهاد هراړخيزمخالفت بي كړيدي، اودادرباني اومسعود اداره ده، چي نن بي دخپل غيرقانوني حكومت دبقالپاره غيرزورته پرانستي، اودجهاد له دښمنانونه مرستي ترلاسه كوي، چي په هيڅ بيه دافغان مجاهدولس لپاره دمنلووړخبره نده . حال داچي هندوان تيغ په تيغه له مجاهدينوسره جنگيدلي، اوپرنړيوال ډگرېي دمجاهدينوپرضد اودروسانوپه پلوي دريځ نيولي . پردي سربيره به ايتلاف ددي څه خواب ووايي، چي دډاكترعبدالرحمن بوه پښه په كابل اوبله په مسكوكي وي، روس ددي لپاره چي درباني غيرقانوني حكومت پياوړي كړي، جنرال دوستم ته بلنه وركوي، اومسكوته بي غواړي . داډيره دحيراني خبره ده ، چي افغانان دي له خپلو سرسختودښمنانونه مرستي وغواړي . په اصل كي دكابل رژيم هغه منفوره اداره ده ، چي هيڅ يوي خواته مخ كولي نشي، اونه ورته هيڅ جمهوري ملك مرستي وركولي شي. ځكه چي دخپل هيواد دخلكوله خوابه داصولونه دسرغړاوي په جرم محاكمه اوله اقتداره به پرېوځي، خودروس اوهند غوندي هيوادونه داچاري ځكه سرته رسوي ، چي له مسلمانانو اوبيا افغانانوسره پښتيزه دښمني لري. سره امپراتوري دافغاني مجاهدينو په تكبيرونوړنگه شوه ، اواوس هم ورته دچيچن مجاهدين دافغانانو په بيه پريوځي . همداز منځني آسياأودهغي دفاع هم ورته همدومره اهميت لري . دروسي الوتكو داځرېم ځل دي چي دبدخشان سيمي بمباروي، خودرباني دحكومت ژبه دومره گونگه ده ، چي ديواحتجاج غږهم نشي پورته كولي، داله دي پرته بله څه مانالري ،چي رباني اومسعود دافغانستان په هرڅه سوداكولي شي، خوچي په اقتداركي پاتي شي. دكابل داداري دذلت لپاره همدابس دي چي زړي سوليدلي كمونيستي پرزي هم دخپل خاينانه ماشين لپاره فعالوي، اوله ولي خان نه چي دصوبه سرحد په انتخاباتوكي دپاكستان مسلمان ولس مستردكړي، دمنځگړتوب هيله لري اودسيندابښتي غوندي هرخس وخاشاك ته لاس اچوي. داخبره بيخي څرگنده ده ، چي درباني حكومت ته ټولي دروازي ترل شوي، بس روس ،هند، اودولي خان غوندي دمنځني آسيا زړي كمونيستي اروااوي ورته پاتي دي ،چي هغه هم په جرائت ورته ملاتړنشي كولي، خوداروس دي، چي افغانانوته دسري امپراتوري دړنگيدلوبدل اخلي، بااورته افغاني چاپوي ، اوبيابي پوځي تكنالوژي سوي ،خو كه دكابل اداري هرڅه فكركړي وي، داډول ذلت اميزه رويه بي دمنلونده ، اوافغانان كه په ژوندنشو، خوپه مرگ به هم ددوي ځلي اوقبرونه محاكمه كړي، اوتاريخ به بي هيڅكله ونه بخښي . اوس له هروخت نه زيات ددي فرصت دي، چي بايد ټول افغانان اوبيا جهادي تنظيمونه دجهادي وياړونو دخوندي كولو لپاره سره متحدشي. دطالبانو اسلامي غورځنگ هم بايد دخپلو تيرو اشتباهاتونه په تجربه درباني پرضد له نورو مجاهدينوسره لاس يوكړي ،زموږ په نكركه طالبانودجهادي تنظيمونوسره په متحدډول رومبي برغل پركابل كړي، اودرباني ،مسعود پرضد جنگيدلي وي، دافغانستان غميزه به دومره نه وي غځيدلي . خوطالبانوددي پرځاي چي دنفاق مرض تشخيص اوپرضدبي گاموته پورته كړي، فروعاتوته ښكته شول، اوهمدغي چلند ورته له ناكامي پرته بل څه ارمغان نه كړي شول . نن چي امريكا اوټول لويديځ دچاپرضد دجنگ اعلان كړي ، هغه له شك پرته اسلامي خوځښتونه اوبيا چي ورته كوم حساس اهميت لري ، هغه دافغانستان اسلامي تحريك دي. نوځكه بايد دافغانستان گردمخلصين اسلام پالي ددغه خوځښت ترشاودريږي ، اودغه فرصت چي ديوه پاڅون او مقاومت په ډول ميسردي، له لاسه ورنكړي . كه نه سبانه به بياخداي مه كړه ، زموږحالات نورهم خراب اومجاهدملت به رابانديي خپل اعتماد بايللي وي، چي دنړي اوهيوادونوترمخ دمجاهدينوبي اعتباره كول دنړيوال كفروروستني مرام دي .

روسيه مخالفت امريكا مبني برفروش رياكتورهاي هستوي برايران رامردود دانست

مسكو ۱٦ ثور.

روسيه مخالفت امريكا رابا فروش ريكتورهاي هستوي به ايران مردود دانسته است.

مقامات روسيه گفته اند فروش اين ريكتورهاكمك به ساختن سلاح هاي هستوي ازطرف ايران نيست وامريكايي ها از قراردادي كه بين ايران وروسيه امضا شده داستاني ساخته اندكه گوياروسيه دستگاه گازي باوسيلهٔ غني گردن يورانيم راكه درساختن سلاح هاي هستوي به كارميرود به ايران خواهد داد.

روسيه گفته است كه ايران با تيمانده سوخت هستوي رابه روسيه واپس خواهد فرستاد وبه اين ترتيب امكان هرگونه استفادهٔ نظامي از آنها ازبين خواهد رفت .

ايران نيز اطمينان هاي مشابهي داده است .

خبرنگاران ميگويند اين مسئله احتمالاً بركنفرانس هفتهٔ آينده سران امريكا وروسيه در مسكواثرات بدي خواهد داشت .

امريكادرتطبيق "نظم نوين جهانى" تنها خواهد ماند

جنيد

پس ازاشغال نظامي افغانستان توسط اردوي سرخ درسال ۱۹۷۸ ميلادي ، روس هاتقريباً ده سال تمام دربرابر ملت فقيروبيچاره' افغانستان دست وگريبان بودند تاحرص وآزتوسعه طلبي آن هابرآورده گردد . ولي شوروي ها ازين كشوربه صورت بسيارمفتضحانه شكست خورده وقراررابرقرارترجيع دادند كه بااين شكست گلم استعمار شوروي كه ازشرق تاغرب پهن وگسترش يافته بود برچيده شده آمال ونيات شوم ايشان بخاك يأس مبدل گرديد .

پيمان نظامي وارسا به پارچه هاي كوچكتري تقسيم گرديده ونام امپراطوري اتحادشوروي ازصفحه' جغرافياي گيتي برچيده شده انديشه'كمونيزم محوتابودگرديد .

امريكابااستفاده ازشكست وريخت حريف ديرينه اش كه سال ها خواب رابروي حرام ساخته بود جهان رابساط گسترده براي تكتازي هاي استعماري خويش يافت و كوشيد تابامناطق زرخيزنفت كه اكثراً تحت كنترول ممالك اسلامي قراردارند ،سيطره ونفوذ خويش رالتحكيم بخشد .

پس ازختم جنگ جهاني دوم درسال ۱۹٤۵م نظريه ايجاد يك نظام نوين جهاني توسط متفكرين وسياستمداران امريكا اساس گذاشته شدكه به تاسي ازاين انديشه'جهان تازه بايد جاي نظام كهن رااشغال نمايد . ازنظرآن ها پس ازختم اين جنگ ،جهان ازحالت دوقطبي بيرون شده وجاي آن را نظام يك قطبي خواهد گرفت ،يابه عبارة' ديگرجهان به سوي نظامي درحال حركت است كه درآن صرف يك نيرووآن هم ايالات متحده' امريكاخواهد بودكه به شمول كشورهاي غربي تمام كشورهازيرنفوذ آن قرارداشته وازآن اطاعت وفرمانبرداري نمايند .

هنري كسنجر وزيرخارجه' اسبق ايالات متحده' امريكا موسس نظم نوين جهاني بنيادگرايي اسلامي رابزرگترين خطربراي امنيت امريكا خوانده است ازجمله طرفداران حاكميت امريكا درجهان است .وي اظهارداشته كه درجهان فقط يك نظام وجودداشته باشدكه درراس آن ايالات متحده امريكا قرارداشته باشد .

اگربه وقايع وحوادث چندسال اخير درجهان دقت نماييم به وضاحت خواهيم ديدكه همه اين جريانات وحوادث برنامه ريزي شده ازسوي تنظيم جهاني صهيونيزم كه ميخواهند جهان رابه سوي يك قطبي شدن بكشانند رويدست گرفته شده است.

درمارچ سال ۱۹۹۵ ميلادي درشهرگرين هاگن دفارك كنفرانسي تحت نظارت ملل متحد بااشتراك بيشترازيكصد مملكت بخاطر امحاي فقر، بيكاري وهمكاري هاي مشترك اقتصادي دايرگرديد . درآغاز اين كنفرانس علاوه برمطالب فوق راجع به حاكميت جهاني ملل متحد نيز غوروبررسي صورت گرفت كه اين طرح تقريباً براساس همان طرح پيشنهادي دانشمند يهودي برتراندررسل كه چندي قبل ارائه نموده بود مطرح بحث قرارگرفت كه براساس آن حكومت هاي محلي ازبين رفته وبجاي آن حكومت واحد جهاني رويكارخواهد گرديد. هيچ كشوري نيروي واحد نظامي نداشته وتمام نقاط جهان را نيروهاي نظامي وعسكري ملل متحد كنترول ونظارت نموده واموركشورهاازطريق اين اداره حل وفصل خواهد گرديد .

منظورازپيشنهادچنين نظريه ولب ولباب اين انديشه دراَزندااينست كه تحت رهبري ملل متحد يك حكومت جهاني تشكيل گرديده كه برتمام اموركشورها كنترول ونظارت داشته باشد كه درآن امورمالي ، تجارتي، صنعتي ، دفاعي و تمام مسايل سياسي نيز شامل ميباشد وگذشته ازآن دربايان قرن جاري واوايل سده آينده موسسات فعلي جهاني محدودساخته شده وبجاي آن اداره' جديد تشكيل مينمايندكه درنقش شوراي مشترك اقتصادي ايفاي وظيفه مينمايد .

پس ازاين تغيرات درجهان حكومتي تشكيل خواهدگرديدكه داراي دوبخش عمده ميباشد .

۱ - كنترول تمام نيروهاي نظامي وسياسي جهان توسط ملل متحد .

۲ - ايجاد نظام وياسيستم مالي واحد كه تمركز تمام نيروهاي مالي به اين اداره مرتبط ميگردد .

طرح چنين انديشه به وضاحت ميرساندكه امريكا ميخواهد زيرنام عناوين مختلف سيادت وآقائي جهان رادراختيارخويش داشته باشد وملل متحد كه درنقش ژاندارم امريكادرجهان وظايف محوله اش رابسر ميرساند ميكوشد ازطريق تصويب چنين برنامه هاي استعماري نقش امريكا رادرجهان به اثبات رسانيده ودرمجموع به تنظيم هاي كه بخاطر بالادستي صهيونيزم درجهان مصروف فعاليت اند خدمتي نمايند . زيرا امريكا درتلاش است تابه نحوازانحا جلوپيشروي حركت هاي اسلامي رادرگوشه گوشه جهان سدواقع شده ونگذارد نهضت هاي اسلامي دربيداري ملت هاي اسلامي نقش به سزايي ايفا نمايند .

بنابرآن امريكايي ها به منظور تضعيف نمودن ومنفور جلوه دادن حركت هاي اسلامي باشر اخبارجعلي مسئوليت تمام اعتراضات عليه كشورهاي غربي درراس امريكا را بدوش مسلمانان انداخته و آنان را درتعميل برنامه هاي خرابكارانه درجهان سهيم ميسازد .

چنانچه چندروزبعد از انفجاردرساختمان دولتي شهراوكلاهما، آقاي بل كلنتن ازكشورهاي متحد خويش خواست تادرتحريم اقتصادي عليه ايران باوي همكاري نمايند. ازنظرآن ها ايران دررديف كشورهاي قراردارد كه گويا رهبري تروريزم بين المللي را به دوش داشته وجهان رابه سوي بي امنيتي وخطرسوق ميدهد . چنانچه بااين ارتباط ازروسيه درخواست نموده تادرمورد فروش

بقيه درصفحه سوم

دقربانى اختر:

دصبر، استقامت اواطاعت درس

شمس الرحمن

(په تحقيق سره دخداي (ج) په نزد مقبول دي داسلام دين دي - الآيه) داپوځرگنده حقيقت دي چي رب العزت دخپلوبندگانو لپاره ، دهلاكت اوبدبختيوڅخه دنجات موندلو' داسلام دمقدس دين پاكه اوسپيڅلي لارغوره كړي چي پومستقيم اوروښانه مستقبل ته رسيدونكي ده .

دغه دالله (ج) په نزد غوره دين تول تولو اديانوكي ځكه بهتره بلل كيږي چي دروښانه قوانينواومقرراتودرلودونكي دي، شعاربي توحيداويواځي دالله (ج) بندگي ته سرټيټول اوتضرع كول دي چي دهمدغه اصل له امله بي نتيجه دهرمومن بنده په برياليتوب، سرلوړي اودهلاكت څخه دنجات په ميندلوتماميږي . له دي پرته كه واقعيت ته ښه ځيرشواوپه شيطاني وسواس دوكه نشو، نوله وراپه معلوميږي چي داسلام مقدس دين خپله پراخه غيږدهغه انسان له پاره چي دخداي (ج) واقعي بندگي، دهغه جلال ذات قرآني لاربښوني اوداسلام دسترلاربښودحضرت محمد (ص) اونورو پيغمبرانو عليهم السلام لاربښوني ، قرباني اوكرنلاري بي په ځان قبولي كړي وي، دصبراواستقامت څخه بي كاراخستي وي، تل پرانستي ده، له همدي امله مريدي باومن كوي چي په دغه لارباندي تگ مصئونه اواصلي مقصود ته يواځي ررسيدونكي لاره .

هسي خو په دنيا كي ډيراديان شته ، هردين ځانگړي خصوصيات اوممېزات لري ولي ترڅو چي په ثبوت رسيدلي خبره ده، كوم خصوصيات اوښيگڼي چي داسلام په دين كي رب العزت اچولي دي په نورو اديانوكي بي بېلگي نه ليدل كيږي ځكه چي الله تعالي په خپله داسلام ددين غوره والي بيان كړي دي، دمثال په توگه څرنگه چي انسان په خپله بركمزوري اوناقص مخلوق پيداشوي دي، حتمي ده چي په ژوند كي به ديولړ اشتباهاتو اوگناهونومرتكب گرځي ځكه هغوي په دنياكي ديوقوي دښمن (شيطان لعين) سره په مقابله كي لاس اوگريوان دي دخپلو گناهونو درڅيدو له پاره ارحم الراحمين خداي (ج) دتوبي اوپښيماني لاري پرانستي دي، وسيلي اوسپيوته بي ورته پيداكړي دي ترڅوددغه دوكه شوي توبه گارانسان داسلام دمقدس دين دلارښوونواو شعايروپه خپلولوسره دالله (ج) په نزد مغفوروگرځي . والله په درباركي رداومنو اومقصودته رسيدونكولاروپه ترڅ كي يوهم چي نن سبابه بي دتجليل مراسم داسلامي شعايرواوقرانيتوله مخي ترسره كيږي ،دقرباني داختر، دادپوره اطاعت بيلگه ،دصبراواستقامت درس اوبالاخره په ځان، مال اواولادباندي درب العزت دحكم تطبيق ته په اخلاص سره تمامه اينبودلولار بي بوه ځرگنده بيلگه ده .

دذي الحجه دمياشتي لسمه نيته دټول اسلامي امت لپاره دتوحيددلاري دسترسالارحضرت ابراهيم خليل الله دهغي عظيمي قرباني (دقرباني اختر) يادتازه كول دي چي په مليونونومسلمانان بي ترلن پوري داطاعت اومنلومراسم پرځاي كوي كه څه هم دحضرت ابراهيم عليه السلام دغه لويي قرباني ته زړه ښه كول اوپه اخلاص سره دعمل جامه ورافوستل ظاهراً څه آسانه اوبسيط خبره نده چي نن هم اسلامي امت په ډيره مينه اواخلاص سره دهغه (ع) پيروي كوي، ولي دالله حكم ته په لبيك ويلوسره به دمومنانو هرمشكل كارآسانه اودنجات موندلووسيله گرځي . لكه چي حضرت ابراهيم (ع) دخپل خداي (ج) دحكم داطاعت كولو له پاره خپل نازنين ماشوم زوي دقرباني په ميدان كي ترڅيزي چړي لاندي پري باسي اودهغه معصوم اومطيع زوي حضرت اسمعيل عليه السلام هم دشيطان له وسوسو سره سره بياهم دخپل خداي (ج) دامر اطاعت كوي . دذبح لپاره حاضريږي ، څوكله چي الله تعالي حضرت ابراهيم (ع) په خپل سخت امتحان كي برپالي گوري ،مطيع اوفرمانبرداره بي وبني نو دالله اكبر ناري ديورته كولوسره سم د حضرت اسمعيل ذبيح الله پرځاي پسه ذبح كيږي اوحضرت ابراهيم (ع) ته دبرياليتوب اودخپل زوي دسلامتيازيري وركوي چي داعمل ظاهراً ډيرسخت دي خودالله حكم ته دلبيك ويلوپه صورت كي ډيراسانه گرځولي شوي دي .

كه دابراهيم عليه السلام دغي عظيمي قرباني ته نظروكړو نودادفرمانبرداري ،صبر، استقامت اوانسانيت ديولو اهدافو دترسره كيدو يوه ځرگنده بيلگه ده چي دقوي ايمان اوپخې عقيدي په درلودلوسره بي داوښوده چي دالله تعالي اطاعت اوحكم ته لبيك ويل كه څه هم دسر، مال اواولادپه قرباني سره ترسره كيږي ، بايد عملي شي ترڅويي دغه اعتقادي اوايماني مكلفيت اورسالت ته په وړين تندي سره چمتووالي ښودلي وي .

همدارنگه ده كله چي دمومنانو غوږونوته دلوي اخترياقرباني اخترد ورځي غږرسيږي ، نوبه دغه وخت كي به دالله تعالي داطاعت اوفرمانبرداري دوي مهمي پيښي په نظرراځي ،يوداچي دغه مباركه ورځ دابراهيم خليل الله يوښت طريقه پاتي شوي چي دخپل رب العزت په لوي اوسخت امتحان كي بي دخپل گران زوي په ذبح كولو سره برياليتوب ترلاسه كړي اودغه پيښه دمسلمانانو لپاره دصبراواستقامت درس دي. بل داچي په دغه مباركه ورځ دالله (ج) دكوربيت الله په حرم اوشاوخواكي په لكونو مسلمانان راټول شوي، په يوشان اوځانگړيو مراسموسره دالله (ج) اطاعت اواحكام پرځاي كوي اودخپلوسهواوگناهونومغفرت اوبخښه غواړي .

هغه څوك چي واقعاً دخداي (ج) اونورواسلامي شعايروپيروي كوي، دهغي

پاتي په دريم مخ كي

برگشت مهاجرين به وطن در روشنى بحران جارى كشور

بعداز سقوط رژيم كمونستي نجيب وبقدرت رسيدن زمامداران كابل ، مسئله برگشت مهاجرين افغان ازكشورهاي برادرهمسايه بوطن . باموافق متضاد ورسمي اين كشورها ازطريق رسانه هاي خبري بين المللي عنوان ميگردد كه دربعضي مواقع اين مسئله شكل جدي اي را بخود ميگيرد . دراين حقيقت شكي نيست كه فيصدي بيشتر مهاجرين افغان دردوكشورهمسايه وبرادر يعني پاكستان وايران مقيم اند.

و سال هاي متمادي اي است كه ملت وحكومت هاي اين دوكشور از مهاجرين افغاني ميزباني كرده اند كه اين عمل شان قابل قدر مي باشد.

بايد خاطرنشان كرد كه مسئله برگشت مهاجرين با اوضاع واحوال جاري دركشورما تعلق دارد ،

كه تا هنوز شرايط براي برگشت مهاجرين بوطن علاوه از آنكه مساعد نيست بلكه روزتا روز درنتيجه انحصارطلبي ها وجنگ افروزي هاي عده يي از عناصر قدرت طلب نه تنها شرايط سخت ترشده ميرود وبراي هموطنان ما شرايط فعلي زندگي نمودن غير قابل تحمل شده مي باشد، از ديد شرايط واوضاع پروگرام برگشت مهاجرين از جانب كشورهاي همسايه ، به افغانستان غير مناسب دانسته مي شود.

افغان ها زماني بامشكل آواره گي وهجرت سردچارشدند كه كشورشان اسيرپنجه هاي روسها و نوكران دست نشانده روسها گرديد و مقاومت اسلامي مردم مومن وشجاع ما شدت گرفت وارتش روس وارد سرز مين ما گرديد. درچنين شرايطي سيلي از مهاجرين به كشورهاي همسايه وبرادر يعني پاكستان و جمهوري اسلامي ايران سرازيرشد . كشورهاي مذكور نيز با احساس اخوت اسلامي وحس بشردوستي ازمهاجرين استقبال نمودند .

درچنين بحبوحه دستگاه خاد و K.G.B غرض بر هم زدن مناسبات افغانهاي مهاجر باكشورهاي همسايه دست به اعمال خيانت كارانه دركشورهاي ميزبان بويژه پاكستان زدند.باوجود آن موقف رسمي دوستان براصل اخوت اسلامي استواربود كه تاهنگام سازگارشدن حالات براي برگشت مهاجرين آنها حاضر اند از مهاجرين ميزباني كنند. درين روز ها باز شنيده مي شود كه مقامات مسئول كشور برادر وهمسايه ما ايران مقصد دارند تا مهاجرين افغان را از آن كشور اخراج نمايند اما عكس العمل سازمان ملل دررابطه با عمليه برگشت مهاجرين از ايران به افغانستان براصل برگشت داوطلبانه و رضامندانه مهاجرين استوار بوده وازمقامات آنكشور خواسته است كه اين اصل رامدنظرداشته باشند

باوجود همه مشكلات حال هم عدهٔ از هموطنان ما بامشاهده آرامش نا چيز حاضر به اين شده اند تا ديارهجرت را ترك وبوطن شان برگردند كه سروي موسسه خيريه (UNHCR) مبين اين حقيقت ميباشد

. پس درصورت كه صلح وثبات دركشورما بطوركامل اعاده واقامه شود ومردم ما شرايط زيست وزندگي رامتناسب حال شان بدانند وبه اين امر متيقن شوند كه مال وجان وعزت آنها محفوظ خواهد بود، شايد عمليه برگشت مهاجرين به مراتب مرجع تراز خواست وآرزوي مقامات مسئول دركشورهاي همسايه باشد.

زيرالحربه سه سال قبل از امروز هنگام اولين روز هاي پيروزي مجاهدين بررژيم كمونستي گواهي خوبي براد عاي ماست .

در آن هنگام مهاجرين سيل آسا به افغانستان عودت ميكردند ودر مدت كوتاهي چند صد هزار نفرازهموطنان ما از كشورهاي برادر وهمسايه پاكستان وايران به افغانستان برگشتند . ولي اين پروسه زماني به تعطل وتوقف دچار شد كه آتش جنگ ها ، ويرانگري ها وكشت وخون دوباره دركشور ما اغاز يافت

پس ازشر يعد كه افغانستان هنوز هم صحنه' جنگ وآتش است واحدي رااطمينان نيست كه مال وجان محفوظ باشد . شرايط دشوار زندگي ووروپاشي سيستم اقتصادي كشور به اين مشكلات افزوده ميرود . پس در چنان شرايط نامناسب برگشت مهاجرين برخلاف ميل ورغبت آنها كار درست نيست ما از مقامات مسئول كشور هاي همسايه توقع داريم طوريكه يك ونيم دهه [illegible] صبر وتحمل مشكلات فراوان از مهاجرين نگهداري وميزباني كردند ، اكنون هم به اين روش برادرانه وبشردوستانه شان تاسازگارشدن شرايط زيست وزندگي آبرومندانه براي مهاجرين ادامه بدهند ان شاءالله آنروز دورنيست كه افغان هاي مجاهد ومومن به آرزوي حقيقي واسلامي شان كه همانا اقامه حكومت اسلامي منتخب ومنبعث از اراده مردم ماباشند،برسند وهم توطيه ها ودسايس رنگارنگ استعمار را نقش بر آب سازند . آنگاه مهاجرين با سرعت هرچه بيشتر وخلاف تصور وانتظارآنها بسوي وطن شان برگردند .

قربانى

دانسان له پيدايښت نه تر اوسه د قرباني سلسله را روانه ده په انساني تاريخ كي لومړني قرباني دآدم عليه السلام د دوو ځامنو هابيل اوقابيل ده، چي په قرآن عظيم الشأن كي بي يادونه شوي ده ژباړه :" دي اهل كتابو ته د ادم عليه السلام د دواړو زامنو رښتيني قصه واوروه . كله چي دواړو ځيني قرباني وړاندي كړي نو دي دواړوڅخه ديوه (هابيل) قرباني قبوله شوه د بل (قابيل) قرباني قبوله نه شوه " قرباني په تيروټولو امتونو كښي موجوده وه اود هرامت په عبادتي نظام كي بي ديوي لازمي برخي حيثيت لرلي دي . خو دومره خبره ده چي په مختلفو وختونو او بيلا بيلو قومونو اوځايونو كښي دهغوي دحالاتو په پام كښي نيولو سره د انبياوو شريعتونو كښي دقرباني لپاره ځانگړي طريقي وي ليكن په بنيادي توگه په ټولوآسماني شريعتونوكښي داخبره مشتركه وه چي د ځاروي قرباني دي يواځي دالله (ج) لپاره اودهغه د نوم په اخستو سره دي وشي . نن كه مسلمان دنړي په هرگوټ كي قرباني كوي نوبه زړه كښي بي داسماعيل عليه السلام ياد تازه كيږي ،قرباني په حقيقت كښي داسماعيل عليه السلام فديه ده . قرباني په اصل كښي ددي عزم ،يقين اوسرښندني عملي اظهار دي چي دانسان سرڅه دي ، ټول د الله (ج) دي اودهغه په لاره كي داټول قربانول په كاردي . قرباني په حقيقت كي ددي [illegible] ده چي مومن به د الله (ج) په لاركښي دهيڅي وينې پيول هم ونه سپموو چي د ژمني اوسرښندني ته ايمان ، اسلام اواحسان ويل كيږي . پيغمبر (ص) او بياټول امت ته د ژوند په هره ، برخه كي دقرباني دروح دخپلولو ښودنه شوي ده لكه څنگه چي قرآن كريم په دي باب فرمايي "ژباړه : (اووايه ! بيشكه زما لمونځ ،زما قرباني ، زما ژوند اومرگ ټول خداي (ج) لره دي چي پالونكي دټولو عالمانو دي) . په خداي (ج) باندي د پوخ ايمان اود هغه په وحدانيت باندي د پوره يقين لرلو معني داده چي دانسان د ژوند ټولي چاري اومنډي تر ړي دي دهغه درضا لپاره وي اودهغه په لاره كښي دي ددي ټولو څيزونو په قرباني سره دايمان ،اسلام ، وفاداري اوسرښندني ثبوت وركړي.

نن سبا چي زموږ په ټولنه كښي دكومي گمراهي دخپريدو ويره ده هغه داده چي دالله (ج) د هر حكم په باب دحكمت اودنيوي گټو پښته كيږي كه ددين په كوم كركښي دبيري گټه په نظر راغله نوسرته بي رسوي اوكه څه دنبوي گټه بي پكي ونه مونده توبيا دهغي په سرته رسولو كښي له مختلفو بهانو اوچړن وچړا څخه كار اخلي . آيا دېته دين ويل كيږي اودي كارته د الله د دين اتباع ويل كيږي ؟

اتباع خو هغه ده چي حضرت ابراهيم عليه السلام اوهغه قدرمن ځوي حضرت اسماعيل (ع) وښوده الله (ج) دهغه داعمل دومره خوښ كړ چي په قرآن كريم كښي بي په صفا ټكو سره دهغه ستاينه كړي ده اودي امت بي ترقيامته دابراهيمي (ع) سنت د جاري ساتلو حكم كړي دي ددي قرباني اصل حقيقت دا هم دي لكه څرنگه چي دالله (ج) دحكم په وړاندي هغوي خپل سرونه كيښودل اودكوم عقلي دليل غوښتنه بي ونه كړه اودقرباني اوذبحي د حكم په باب دحكمت اومصلحت په لټون پسي نه شول اودالله (ج) حكم ته بي بي له كوم چون و چرا څخه سرونه ټيټ كړل نوموږ هم بايد په خپل ژوند كښي داطريقه خپله كړو چي دقرباني له عبادت نه همدغه سبق اخستل مقصد دي . دكوم لوي مقصد لپاره چي الله (ج) دغه قرباني واجب كړي ده په ځينو اسلام دښمنه حلقو كښي دهغي پرخلاف داسي ناوړه پروپگنډه كيږي چي دا قرباني څه شي ده ؟ اومقصد بي څه دي ؟ په لكونو روپي دوينو په شكل په وياله كي بيول كيږي ، اقتصاد كمزوري او ځاروي كميږي دا او هغه ناوانونه په ځان پسي لري نو په دي اساس دقرباني د غوښوپه ځاي كه پيسي په غريبانو وويشل شي نو دهغوي ضرورت به په ښه توگه پوره شي دا پروپاگند دومره ډيرشوي چي كه پخوا به يواځي كومي ځانگړي حلقي داخبري كولي ليكن اوس حالت داسي دي ان تردي چي ځيني مسلمانان په دي باب پوښتنه كوي چي زموږ ډير خپلوان او دوستان غريب دي كه موږ قرباني ونه كړو اودهغي په عوض نقدي پيسي هغوي ته وركړو نو په دي كي به څه تاوان وي ؟ خبره داده چي د هرعبادت لپاره يووخت اوځاي ټاكل شويدي دمثال په توگه كه څوك داسي ووايي چي زه لمونځ نه كوم په ځاي بي دغريبانو مرسته كوم ،نوداكار به دهغه دفرض لمونځ ځاي ونه نيسي اودهغه فرض لمونځ به پري اداشي له غريب سره دمرستي كولو اجراو ثواب په خپل ځاي خو كوم فرايض چي دي هغه پر خپل ځاي فرض اوواجب دي دقرباني په باب چي كوم ناوړه تبليغات كيږي گواكي چي داعقل خلاف كاردي.

اويا د اقتصادي كمزوريو سبب گرزي دا په حقيقت كي دقرباني دټولي فلسفي اودهغي د روح نفي كول دي دقرباني حكم خو دهمدي لپاره شوي دي چي كه په دي [illegible] عقل اوفكر رسيږي او كه نه [illegible] سرته رسوي او عمل به پري كوي [illegible] هرحكم ته غاړه ايښودل او په هغي عمل كول دا دقرباني اصل روح دي . دالله [illegible] بادسانل په كار ده او هغه دا چي تر كومي چي انسان كي دنه اتباع پيداشوي نه وي ترهغي انسان كيداي نه شي . خومره [illegible] اوهغه چي نن سبا په انسانانو كي ديپسي غزولي دي هغه په حقيقت ددي بنياد دهيرولو له امله دي چي انسان دخپل عقل پسي روان دي او دالله (ج) دحكم داتباع پسي نه ځي ، ځيني عبادتونه په اسلام كښي داسي دي چي په لږ مالي لگښت سره ډيري معنوي گټي په لاس راځي ښكاره خبره ده څوك چي دايمان له معنوي پانگي نه بي برخي وي هغه ته ددي عباداتو معنوي اړخ نه ترسترگوكيږي او دانسان د تربيي اوتزكيي په باب د داډول عبادتونه اغيز درك كولاي نه شي.

قرباني هم ددغه ډول عباداتو څخه ده چي

پاتي په دريم مخ كي

قرباني ازنظر اسلام

تتبع ونګارش "وحدتیار"

خداوند جل وعلي شانه درقرآن حکیم سوره حج آیه ۳٤ چنین مي فرماید : «ولِکلِ امةٍ جعلنامنسکاً لِیذکرواسمَ اللهِ علي مارزقهم من بهیمةِ الانعام ... »
ترجمه : وبراي هرامتي قرباني مقررنمودیم تانام خدارابرآن چارپایاني یادکنندکه مابراي شان عطاکرده ایم .
درین آیه کریمه مراد ازمنسک قرباني مي باشد وازآن برمي آیدکه قرباني باید بنام خداباشد، زیراقسمت بعدي آیه کریمه دلیل آن است یعني چون همه چارپایان مال خداوعطاکرده اوست باید بنام اوذبح ونحرگردندنه بنام کسي دیگر، تاکیدنام خدا بخاطر اینست که مشرکین عادت داشتند مال هاي خویش رابنام معبودان باطل و خودساخته خویش قرباني مي کردند، خداوند بخاطر ردان عقیده وعمل مشرکانه آنهابه مسلمانان تاکیدمي نماید که چارپایان خویش راکه همانا مال وعطیه خداست فقط وفقط بنام اوتعالي قرباني کنند . ازین آیه کریمه همچنان برمي آیدکه قرباني قدامت تاریخي داردوباظهورانسان درعرصه وجود آغازگردیده وخداوند براي هرامت قرباني مقرر فرموده است . اینکه قرباني باقدم گذاشتن انسان درعرصه وجود آغازگردیده است ازدیگر آیات قرآني هم واضح مي شود مثلاً آنجاکه خداوند ازداستان رقابت منفي وحسادت قابیل باهابیل حکایت مي کند مي فرماید : «واتلُ علیهم نَبأبنَي آدم بِالحق اِذقرّبا قرباناً فَتُقبّلَ مِنْ احدهماولم یُتقبل من الآخر قال لاقتلنّك قال انما یتقبل الله من المتقین » (مایده - ۲۷)
وبراي آنهاداستان پسران آدم علیه السلام راباحکمت آن بیان کن وقتیکه هردوبخداقرباني پیش کردند پس ازیکي آنهاقبول شدوقرباني آن دیگرقبول نشد اوگفت تراحتماً قتل مي کنم ، آن دیگرگفت خداوند فقط قرباني متقیان راقبول مي کندوبس .
آیه کریمه فوق درین مورد صراحت داردکه قرباني اززمان آدم علیه السلام آغازگردیده وبرابر با تاریخ وجودانسان قدامت دارد . خداوند فلسفه وحکمت قرباني را که درانیجا اززبان هابیل بیرون مي شود درجاي دیگر قرآن حکیم چنین بیان مي کند : لن ینال الله لحومهاولادماء هاولکن یناله التقوي منکم
(حج - ۳۷)
ترجمه : گوشت وخون قرباني هرگزبخداني رسد بلکه تقوي وپرهیزګاري شمامي رسد.
مطلب اینکه خداوند به گوشت وپوست وخون قرباني شمانیازندارد، بلکه مي خواهد که شماازمال وعطیه خداوندي بخشي آنرابنام اوقرباني کرده به تقوي وپرهیزګاري خود بیفزائید وبه این ترتیب بندگان شکرگزاراوتعالي شوید، طوریکه درآیه اول الذکر بیان گردید؛ خداوند قرباني رابراي هرامت مقررداشت تادربدل عطیه وبخشش اوتعالي که برشماارزاني داشت اوتعالي رایادنموده از نعمات اوسپاس گزاري نمائید .
اصلاً هرعبادت بخاطر اینست تا انسان بوسیله آن تقوي حاصل کند، تزکیه شود وبخدا قریب گردد، چنانچه خداوند درمورد حکمت وفلسفه روزه ماه رمضان مي فرماید : کُتب علیکم الصیام کماکُتب علي الذین من قبلکم لعلکم تتقون - البقره
روزه برشما فرض گردید مثلیکه برامت هاي قبل ازشمافرض گردیده بود تاشمامتقي شوید، درمورد نمازمي فرماید «اَقمِ الصلوةَ لِذکري : یعني نمازرا بخاطر یادمن برپادار. ومعلوم است که انسان زماني متقي مي شود وبه کمال مي رسدکه محبت خدارااست به محبت هرچیز دیگر ترجیح دهد وزماني معلوم مي شودکه انسان محبت خدارا به محبت هرچیز ترجیح میدهد که محبوب [illegible] خدابخاطرمحبت [illegible]
درین رابطه مي فرماید [illegible] تنفقوامما تحبون [illegible] رسیده نمي توانید تاآنکه ازآنچه که [illegible] دارید دراه خداخرج بکنید.
اینجاست که خداوند زمانیکه حضرت ابراهیم خلیل علیه السلام را مورد آزمایش قرارمیدهدتا وي را ازهمه ابتلاآت گزرانیده به مقام امامت ورهبري بشریت فایزگرداند به وي دستورمیدهدکه محبوبترین متاع خویش یعني پسرخود (اسماعیل علیه السلام)را درراه اوتعالي قربان کند، قرآن کریم ازین واقعه چنین حکایت مي کند : فلما بلغ معه السعي قال یٰبني اِني اَري في المنام اَني اذبحك فانظر ماذاتري قال یابت افعل ماتومر ستجدني ان شاء الله من من الصابرین
فلمااسلماوتله للجبین وناديه ان یاابراهیم قدصدقت الرؤیاانا کذلك نجزي المحسنین ان هذا لهوالبلوء المبین وفدینه بِذبحٍ عظیم - (صافات ۱۰۰ - ۱۰۷)
ترجمه : پس چون رسیداو(اسماعیل علیه السلام) به سنیکه باپدرش تلګ ودوکرده مي توانست ، ابراهیم علیه السلام گفت اي پسرک من درخواب مي بینم که تراذبح مي کنم پس بنگاه کن توچه نظرداري، اسماعیل (ع) گفت اي پدرکم به آنچه دستورداده مي شوي عمل کن ان شاء الله مراازصابران خواهي یافت .
پس چون هردو پسروپدربحکم خدامنقاد شدند وابراهیم علیه السلام اورا به روبه زمین انداخت وندادکردیم اوراکه اي ابراهیم حقاکه توخواب خویش راپوره کردي (درست ثابت کردي)، مااینچنین نیکوکاران را اجروپاداش میدهیم . بدون شك این یك آزمایش واضح وآشکار بود واورا (اسماعیل را) دربدل یك قرباني عظیم نجات دادیم وبرملت او درامت هاي بعدي امتي (امت محمدي (ص)) راگذاشتیم (که این سنت اوراتاقیامت زنده نگهدارند .)
